عبدالرحمن پژواک

# نوی مضمون

د لیلا نه په یو ټکی ډیر ممنون یم
چه په ډاگه راته وایی چه مجنون یم
د وصال خوبونه نه وینم تل ویښ یم
که د چا یم منت باره د بیلتون یم
خواشین نه یم چه د غم نه می زړه شین وی
څو د اوښکو باران ووری زه زرغون یم
آیینه می ده پخپله جوړه کړی
نه یم گرم که زه د خپل صورت مفتون یم
سکندر د زمانی یم بی هنداره
چه خاوند د خپل گریوان او خپل زنگون یم
په لباس ؟ د شتې لاس پرده ساتلی
د همت د زرزری قبل لستون یم
دغه ساه چه ما کښی وینی څما نه ده
ژوندی بل دی زه یی سیوری د ژوندون یم
مرگ منزل دی د سپیڅلو ژوندون لاره
لالهاند ځکه په لاره د ژوندون یم
څما شعر کښی به نوی مضمون نه وی
خو پخپله ابدی نوی مضمون یم
هوښیاران ؟ لیونی بولی پژواکه
د مستانو خمخانه کښی افلاطون یم.

۵ جولای ۱۹۸٤